محمدآصف خواتی 2016 /12 /27

د ښاغلي سیستاني دوروستۍ لیکنې په هکله څو کرښې

دمحترم محمداعظم سیستاني لیکنې په لیوالتیا سره لولم . دښاغلي صبورالله سیاه سنګ په اړه مې دسیستاني صاحب په زړه پورې مقاله په غورسره ولوستله اوحیران شوم چې په کوم منطق سره ښاغلی سیاه سنګ لدې امله دپښتواوپښتنوپه وړاندې داخوانیانوپه خبره جهاد اودساماپانو له انده انقلابي مبارزه پیل کړي چې پښتنولیکوالو نوموړی نه دی ستایلی او کوروداني یې نه ده ورته ویلی چې هغه دپښتو ددفاع په سنګرکې د تاجک توکمه پښتون دښمنه لیکوالوپه وړاندې دریدلی دی. څرنګه چې هره سیاسي پیښه اودیوه ځانګړي حقوقي شخصیت په اندونوکې بدلون اوتغییر یولامل نه بلکې ګڼ شمیر لاملونه لري همدارنګه دښاغلي صبورالله له لوري دپښتنوپه وړاندې دریدنه هم مختلف لاملونه لرلی شي چې یوه ته یې سیستاني صاحب ګوته نیولې ده. دلته دتعجب ځای دی چې ښاغلی سیاه سنګ دیوه څیړونکي او لیکوال په توګه ولې دچا ، یا دیوه ځانګړې ډلې یا د یوه قوم داستازو څخه داتمه لري چې دده دڅیړنواولیکنو له امله دنوموړي ستاینه وکړي یا ورته کومه ډالۍ وړاندې کړي. نوموړی څیړنیز کاریالیکنې ددې لپاره کوي چې څوک یې وستایي اویا دکال دغوره څیړونکي یا ملک الشعرا لقب ورکړي. دده داتمه هغه شاعرانو اوقصیده ویونکوته ورته ده چې پخوابه په دربارونو کې دیره وو دسلطان ، امیراوپاچا په اړه به یې شعرونه اوقصیدې جوړولې اوپه مقابل کې به واکمنو سره زر یا ځمکې ورکولې. ښه بیلګه یې خلیل الله خلیلي دی چې هم یې محمد ظاهرشاه ،هم یې ضیاءالحق دادافغانستان ورانونکي اودترهګروپالونکی ستایه اودجهاد اومقاومت ټیکه دار برهان الدین رباني یې هم له یاده نه و ایستلی.

دافغانستان روان اوږدمهاله کړکیچ ډیری آسیب پذیره اودسیاسي- رواني ځانګړتیاوولې پلوه کمزوري وګړي اغیزمن کړي اودهغه سره جوخت دافغانستان د دښمنانو دافغاني ضد اوپښتني ضد سیستماتیکو تبلیغاتوتراغیز لاندې ښوئیدلي اوپدې ډول ددواحداویوموټي افغانستان د دښمنانودلاس وسیله ګرزیدلي دي. نن سبا چې زموږپه هیوادکې دپردیو غوبل روان دی ، هیوادمو دنړیوالو سترو ځواکونواوګاونډیانو دسیالیو، کشمکشونو، افغاني ضد معاملو، لاسوهنو ، فرهنګي اوپوځي تیریو هدف ګرزیدلی دی او د جګړو اورونه بل دي هریوه یې هڅه کړې دامشهور فورمول « بیل یې کړه ، ایل یې کړه » پلی کړي چې هغه ددې هیواد دورونو قومونوترمنځ بیلتون ، مخامختیا اودښمنیو ته لمن وهل دي اوځانګړی پام یې دې ته راګرزولی دی چې ددې ټاټوبي لړکي دپښتنو په وړاندې راوپاروي. په افغانستان کې ننې ښکیل هیوادونه که له یوې خوا جګړه ماران اوقاتلان په خپلوغیړوکې نیولي اوپرافغان ولس یې واکمن کړي دي له بله پلوه یې آسیب پذیره او د سیاسي اورواني پلوه کمزوري دقلم خاوندان هم له پامه ندي غورزولي اوپرهغوی یې پانګه اچولې ترڅو قلم دټوپک اوخنجر په څیر وکاروي ، داملت په پښتانه او غیرپښتانه وویشي ، یوقم سپک بل لوړوګڼي اودافغان ورونو قومونو اوژبو ترمنځ بیلتون اودښمنیو ته لمن ووهي.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ magalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که دښاغلي سیاه سنګ پخوانی سازماني تړاوته وکتل شي اودده پخپله دا اعتراف چې سیستاني صاحب په خپله لیکنه کې دنوموړي له قوله راوړی چې اوه کلن زندان ګټه وروروسوله که نه نو «درتنګنای قفس کوچک خودم ،میپوسیدم» ښیي چې له بده مرغه نوموړی په هماغه په خپل کوچني قفس کې لغتې وهي یا داچې دهیواد اوږدمهاله کړکیچ ، یاددښمنانوپرله پسې تبلیغاتو، دهیوادروان اوږدمهاله کړکیچ، تنګ ناسیونالستي افکار، پخوانی سازماني تړاو اویا دمتعصبه تاجک توکمه یارانو سره د راشې درشې له کبله خپلې سامایي ماضي ته بیاراګرزیدلی دی. دلږکیو دداعیې مدعیان چې دهیواد تنګ نظره ناسیونالستان (ملي ستم) او مائویستي ډلې وې دمحمدداودجمهوریت پرمهال په کال ۱۹۷۵ کې د« سالنګ » دتش په نامه پروتوکول له مخې په هیوادکې په فدرالي سیستم ټینګاردرلود چې هغه څرګنده افغاني ضداو پښتني ضد نخښه وه چې بیله شکه هغه مهال ښاغلی سیاه سنګ ورسره همغږی و.البته فدرال سیستم په کل کې منفي پایلې نه لري او په پرمختللوټولنو کې یې ښه نتیجه هم ورکړې ده خودافغانستان په شان یوه هیوادکې چې دمرکزڅخه تیښته تل حکومتونوته سرخوړی و اودواکمنیو لا کمزوري کیدو ته لاره هواره کړې ده منطقآ ښې پایلې نه لري. ننی نظام چې داساسي قانون له مخې متمرکزهم ګڼل کیږي بیا هم لیدل کیږي چې ځینې ځواکمن سیمه ئیزچارواکي لکه عطامحمدنور اودهغه پخوانی موټلف اوننی سیال دولسمشرلومړی مرستیال عبدالرشیددوستم څرنګه مرکزی واکمني ګواښي اوکه خبره فدرال نظام ته ورسیږي پایلې یې خورا ناوړه اوګواښمنې دي.

دهیواد ننې ترینګړي حالت ته په کتنې سره ملتپالو دقلم دخاوندانو څخه تمه ده چې دهغو لیکوالو دزهرپاشونکو لیکنواوهڅوپه وړاندې بې تفاوته پاتې نشي کوم چې داولس سره ویشي. البته دریدنه دامعني نلري چې دښاغلي سیاه سنګ په شان درحمن بابا په څیرلوړفرهنګي شخصیت ته سپکاوی وکړي بلکې په لوړمنطق، سړه سینه اودقلم عفت په پام کې لرلو سره په خپل وخت ځواب ورکړي. که څه هم داډله لیکوال چې د ړندو اوکڼو قومپاله اوژبپاله متعصبینو په وړاندې دریږي په هغوبه د فاشیستانو، هژمونیستا نواودې ته ورته نورې ټاپې ولګول شي څرنګه چې دا تنګ نظره قومپالان پکې تجربه لري. خوحالات حکم کوي چې افغان روڼ اندی کوم چې افغانستان دټولو میشت وروڼو قومونو ګډ کور ګڼي دړندو اوکڼو متعصبینوپه وړاندې ودریږي اودهغوی شیطاني موخې اواصلي ښې بربنډې او رسواکړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ